د سمدستي خپراوي لپاره
د ۲۰۱۷ کال د جولای میاشتې ۳۱مه نېټه
د امریکا نړیواله پراختیایي اداره
د عامه اړیکو څانګه
برېښنالیک: KblAIDDoc@usaid.gov
وېبپاڼه:www.usaid.gov/afghanistan

# مطبوعاتي اعلامیه

## د امریکا نړیوالې پراختیایي ادارېد افغانو ښځو لپاره د ملکي خدمتونو دندو نندارتون په لاره واچوه

**کابل ، افغانستان** —بېکاري د افغانو ښځو لپاره تر اوسه هم یوه ننګونه ګڼل کیږي. خو ، د امریکا نړیوالې پراختیایي ادارې(USAID)او د افغانستان حکومت د دغې ستونزې هوارولو برخه کې د مرستې په موخه په ګډه کار کوي.

نن ، د امریکا نړیوالې پراختیایي ادارې د پروموټ پروګرام «په حکومت کې ښځې» پروژې د ملکي خدمتونو دندو یو نندارتونو په لاره واچوه ترڅو ګډونوالو ته په دولتي سکتور کې د ښځو لپاره د دندو معرفي کړي. په دغه نندارتون کې شاوخواه ۵۰۰ هغو ښځو ګډون کړی وو چې د کار زده‌کړې یو ۱۲ میاشتنی پروګرام څخه چې د ملکي خدمتونو په بستونو کې د دندې ترسره کولو لپاره په څو سطحیزو جامع روزنو باندې یې غور درلود فارغ شوي وي ، ترڅو د حکومت ۲۵ وزارتونو او خپلواکو ادارو څخه د ۵۰ چارواکو سره وګوري.

د نندارتون په لړ کې ، د کار زده‌کوونکو د حکومت استازو سره وکتل او اړوند ادارو کې یې د کارکوونکو ګمارنې کړنلارو ، د کارکوونکو وړتیاوو او د مسلکي ودې فرصتونو په اړه مالومات ترلاسه کړل. د دې ترڅنګ په دغه نندارتو کې د دولتي ادارو له خوا د دندو ۱۰۰۰ فرصتونو څخه ډېرو په اړه مالومات وړاندې شول.

د حکومت ملکي خدمتونو مقررۍ سره د همغږۍ په موخه د کار زده‌کوونکو په مستقیمه توګه دندو ته غوښتون لیکونه و نه سپارل ځکه چې اوسمهال ګمارنې د اداري اصلاحاتو او د ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون له لارې تر سره کیږي. خو ، د کار زده‌کوونکو د خپل د سوانحو لنډلیکونه د حکومت استازو ته وسپارل او ورته داډ ورکړل شو چې وروسته له هغې چې د اداري اصلاحاتو او د ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون له لارې یاد بستونه اعلان کړل شول نو د دوی سره به اړیکې ټینګې شي.

په افغانستان کې د امریکا نړیوالې پراختیایي ادارې رئیس ښاغلي هربی سمیټ په دې اړه وویل «د دغو ښځو لپاره چې د امریکا نړیوالې پراختیایي ادارې د پروموټ پروګرام «په حکومت کې ښځې» پروژې غړې وې دا یو ډېر مهم ګام دی چې د دغو بهیرونو د پر مخ بیولو څرنګوالي په اړه او حکومت کې د کارکولو فرصتونو په اړه مالومات تر لاسه کړي.» هغه زیاته کړه«دغو ښځو د ځان څخه خورا زیاته زړورتیا ورښودلې چې د کار زده‌کړې پروګرام پای ته رسولو ترڅنګ ځان ګټورو دندو لپاره چمتو کوي ترڅو خپل کورنیو سره مرسته وکړي او روښانه راتلونکی ولري.»

د امریکا نړیوالې پراختیایي ادارې د پروموټ پروګرام «په حکومت کې ښځې»پروژه د ښځو لپاره د کار زده‌کړې یو کلن پروګرام وړاندې کوي ترڅو په ملکي خدمتونو کې د دندې ترسره کولو لپاره یې چمتو کړي. په کابل ، هرات ، بلخ ، قندهار او ننګرهار ولایتونو کې د پوهنځیو او دولسم ټولګیو ۱۷۰۰ ښځینه فارغانو دغو روزنو کې ګډون کړی دی.

###

د ۲۰۰۲ کال راهیسې په افغانستان کې پراختیایي پروګرامونو باندې د ۱۷ میلیاردوډالرو څخه ډېرو پیسو لګولو سره ، د امریکا نړیواله پراختیایي اداره افغانستان ته د ټولو څخه لوی دوه اړخیزه ملکي مرستندویه پروګرام وړاندې کوي. د امریکا نړیواله پراختیایي اداره د افغانستان حکومت او ولس سره ملګترتیا کوي ترڅو د هیواد خصوصي سکتور په مشرۍ اقتصادي وده تضمین ، یو دیموکراتیک او ځواکمن دولتچې د قانون حاکمیت له لورې حکومت وکړي رامنځته ، او ټولو افغانانو ته لمړني روغتیایي او پوهنیز خدمتونه چمتو کړي.

د آمریکا ولس، د آمریکا نړیوالې پراختیایي ادارې له لورید څه د پاسه ۵۰ کلونو راهیسې د نړۍ کوډ کوډته بشري او اقتصادي مرستیچمتو کړي دي.

د آمریکا نړیوالهپراختیایياداره په فیسبوک کې | د آمریکا نړیوالهپراختیایياداره په ټویټر کې | د آمریکا نړیواله پراختیایي اداره په یوټیوب کې | د آمریکا نړیواله پراختیایي اداره په فلکر کې